بشتو

# درې ګوني اصول او دلایل يې



د شـيخ الاسـلام محمـد بـن عبدالوهـاب ليکنه
1115م - 1206م

Islamhouse.com
المحتوى الإسلامي

الأصول الثّلاثة وأدلّتها

الأصول الثلاثة وأدلتها

# درې ګوني اصول

## او دلایل یې

(پښتو)

بسم الله الرحمن الرحيم

MKTsoft

ح جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات ، ١٤٤٤ هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

التميمي، محمد

الأصول الثلاثة - بشتو ٢. / محمد التميمي -ط٢. .- ؛ الرياض ، ١٤٤٤

٣٣ ص ؛ ١٤ × ٢١ سم

ردمك: ٣-٤٤-٨٤٠٢-٦٠٣-٩٧٨

١- العقيدة الاسلامي أ.العنوان

ديوي ٢٤٠ ١١٠٥٥ / ١٤٤٤

## شركاء التنفيذ:

دار الإسلام — جمعية الربوة — رواد الترجمة — المحتوى الإسلامي

يتاح طباعة هذا الإصدار ونشره بأي وسيلة مع الالتزام بالإشارة إلى المصدر وعدم التغيير في النص.

Telephone: +966114454900

ceo@rabwah.sa

P.O.BOX: 29465

RIYADH: 11557

www.islamhouse.com

## د خپرندوی سریزه

د الله په نوم سره (پیل کوم) چې ډېر زیات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.

ټول (د کمال) صفتونه خاص د الله لپاره دي چې د ټولو عالمونو ښه پالونکی دی او د قیامت تر ورځې دې د الله درود وي زمونږ پر نبي محمد - (صلی الله علیه وسلم)- د هغه پر کورنۍ، ملګرو او ټوک چې د هغه په لاره ښوونه لاره موندونکي دي.

تر ټولو مهم شی چې مسلمان ورته باید پاملرنه وکړي او تر ټولو لوی شی چې پرې حریص واوسي، په عقیدې پورې تړلي شیان او د عبادت اصول دي، ځکه د اعمالو د قبلېدو او بنده ته یې د ګټې رسېدو دارومدار د عقیدې په سلامتیا او پیروۍ باندې دی.

او الله دا امت د سمې لارې د امامانو په لوړولو عزتمن کړی او تیارو کې یې څراغونه پرې لوړولي دي، هغه امامان چې لاره یې رڼا کړې، واجب او حرام یې بیان کړي او په لویو او کوچنیو ټولو چارو کې یې هغه څه په ګوته کړي چې تاوان او ګټه کوي، نو الله دې له اسلام او مسلمانانو لخوا دوی ته نېکه بدله ورکړي.

له دې امامانو څخه یو ستر او نامتو امام شیخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب دی، الله دې ډېر زیات اجر او ثواب ورکړي او له حساب پرته دې یې جنت ته داخل کړي، ځکه هغه -رحمه الله- له دلیل سره د حق بیانولو کې خورا کوښښ کړی، په دې لاره کې یې پر ژبه، قلم او توره جهاد کړی، تر دې چې الله د هغه په وسیله امتونه د کفر او جهالت له تیارو وژغورل او د پوهې او ایمان نور ته یې ورسول.

دغه کتاب چې زمونږ مخ کې دی، د دې امام د دریو رسالو راټولونه ده چې: **(درې اصول او د هغو دلایل، د لمانځه شرطونه، واجبات، ارکان، او څلور قاعدې)** دي.

دا د عقيدې او عبادت د اصولو په بيان کې د نوموړي له مهمو او جامعو رسالو څخه دي، چې هغه -رحمه الله- په کې هغه څه راټول کړي، چې پر هر مسلمان يې پېژندل او د دين په مهمو چارو کې عمل کول لازم دي.

او د مسلمان پام يې شرک ته د بلونکو خلکو شبهو ته اړولی، چې خلک يې په دې شبهه کې اچولي چې ګومان کوي الله سره شرک يوازې ربوبيت کې په شرک پورې خاص دی. نو د هغوی غلطۍ يې بيان کړې او د الله له کتاب او د هغه د رسول -(صلی الله عليه وسلم)- له سنتو څخه يې شبهات ور رد کړي دي.

دا رسالې هغه رحمه الله د مبتدئينو لپاره ليکلي دي او د اسانولو او لنډيز ډېره هڅه يې کړې ده، تر دې چې تر ټولو په بنه بڼه او ډېره فايده راووتې، چې هم پرې واړه پوهېږي او هم ترې لويان مستغني نه دي، نو ګټه يې عامه او خير يې ډېر دی، ځکه موضوعات يې ډېر او منځپانګه يې غوره ده.

او کله چې د اسلامي چارو، اوقافو، دعوت او ارشاد وزارت چې د مطبوعاتو او نشر ايجنسۍ په نوم چارې پر مخ وړي وليدل چې دا رسالې له خورا فايدو ډکې دي، او دا فايدې يې په دې کې پټې دي چې اسلوب يې اسان او د موضوعاتو اندازه او اهميت يې خورا ډېر دی، نو ويې پتېيله چې له هر څيز ډېر دا رسالې حق لري چې پام ورته وشي او خپرې شي، د دې لپاره چې د الله دې سيده دين ته په حکمت او غوره طريقه بلنه وشي او د الله، د هغه د کتاب، د هغه د رسول او مسلمانانو لپاره نصيحت وي.

الله (سبحانه وتعالی) نه غواړو چې ټولو مسلمانانو ته د هغه په دين کې د پوهې او د هغه پر کتاب او د هغه د رسول پر سنتو د عمل کولو توفيق ورکړي، بې شکه هغه اورېدونکی او نږدې دی، وصلی الله علی نبينا محمد وعلی آله وصحبه وسلم.

د اسلامي چارو، اوقافو، دعوت او ارشاد وزارت استازی، د مطبوعاتو او خپرونو له چارو سره په همکارۍ.

د. عبدالله بن احمد الزيد

❍❍❍

## هغه شيان چې پر هر مسلمان يې زده کړه لازمي ده

د الله په نوم سره (پيل کوم) چې ډېر زيات مهربان، بې حده رحم کوونکی دی.

پوه شه الله دې دربانديې ورحمېږي، چې د څلورو مسايلو پېژندل پر موږ لازم دي.

- ❖ (لومړی) علم چې هغه په دلايلو سره د الله تعالی، د هغه د نبي او د اسلامي دين پېژندنې ته وايي.
- ❖ (دويمه) پر دې عمل کول.
- ❖ (درېيمه) دې ته بلنه کول.
- ❖ (څلورمه) په دې لار کې پر تکليفونو صبر کول،

دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

بسم الله الرحمن الرحيم

**وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾**. قسم دی په عصر؛ (مازديګر، يا زمانه). چې انسان خامخا تاوان کې دی . پرته له هغو کسانو چې ايمان يې راوړی، ښه کارونه يې کړي او يو بل ته يې د حق، نصيحت او د صبر سپارښتنه کړې وي}[1].

شافعي رحمه الله تعالی ويلي: **که الله خپلو بندګانو ته لدې سورت پرته نور دلايل نه وی رالېږلي نو همدا يې بس و.**

او بخاري رحمه الله تعالی وايي: (۱ ټوک ٤٥ مخ).

---

[1] العصر سورت له ۱- ۳ پورې آيتونه

**(باب)** باب دی په بيان د علم کې مخکې  د وينا او عمل څخه، او دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

**{فَاعْلَمْ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ وَاسْتَغْفِرْ لِذَنبِكَ}**[2]

يعنې: نو پوه شه چې يقينا الله نه پرته بل د عبادت وړ نشته او د خپلې ګناه بخښنه وغواړه. نو علم يې له وينا او عمل وړاندې کړ."

**(پوه شه)** الله دې درباندې ورحمېږي چې د دغو درېو مسئلو زده کړه او پرې عمل کول پر هر مسلمان او مسلمانې لازم دي.

**(لومړی)** دا چې موږ الله پيدا کړي يو، همغه روزي هم راکړې ده او بې سرنوشته يې نه يو پرېښي، بلکې هغه موږ ته رسول رالېږلی، نو چا چې د دې رسول پيروي وکړه جنت ته به ولاړ شي او که چا يې نافرماني وکړه دوزخ ته به ولاړ شي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

**إِنَّا أَرْسَلْنَا إِلَيْكُمْ رَسُولاً شَاهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَى فِرْعَوْنَ رَسُولاً (15). فَعَصَى فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلاً (16).**

{بې شکه موږ تاسې ته هماغسې يو رسول پر تاسې د شاهد په توګه لېږلی لکه چې فرعون ته مو يو رسول لېږلی و . خو فرعون د هغه رسول نه سر وغړولو نو بيا مو ډېر سخت راګير کړ}[3]

**(دويمه)** دا چې الله دا نه مني چې هغه سره دې په عبادت کې څوک شريک کړی شي، نه کومه مقربه ملايکه او نه کوم استول شوی نبي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

**وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا (19).**

{او دا چې جوماتونه د الله لپاره دي، نو (هلته) الله سره هيڅوك مه رابلئ} .[4]

---

[2] محمد سورت ۱۹ آيت

[3] مزمل سورت ۱۵ او ۱٦ آيتونه

[4] الجن سورت ۱۸ آيت

**(درېیمه)** دا چې چا چې د رسول اطاعت وکړ او الله يې په توحيد سره ومانه، نو هغه ته له هغه چا سره دوستي کول روا ندي چې هغه د الله او د هغه له رسول سره دښمني کوي، اګر که له هر خپلوانه ډېر ورته نږدې وي، دليل يې د الله تعالى دا قول دى:

**لاَ تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُوْلَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمْ الإِيمَانَ وَأَيَّدَهُمْ بِرُوحٍ مِنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُوْلَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلاَ إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمْ الْمُفْلِحُونَ (22).**

ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د اخرت ايمان لري، چې دوى به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او د هغه د رسول مخالفت کوي اګر چې دغه خلق د دوى پلرونه وي، يا د دوى زامن، يا د دوى ورونه، يا د دوى قبيله وي، دغه کسان دي چې هغه (الله) د دوى په زړونو کې ايمان ليکلى او دوى يې په هغه روح سره قوي کړي دي چې د ده له جانبه دى او هغه به دوى داسې جنتونو ته داخل کړي چې د هغو لاندې ولې بهېږي، چې دوى په هغه کې تل تر تله وي، الله له دوى نه راضي شو او دوى له هغه نه راضي شول، دغه کسان د الله لښکر دى؛ خبر اوسئ! بېشکه د الله لښکر، همدوى کامياب دي. المجادلة سورت ۲۲ آيت.

## حنيفيت؛ ابراهيمي ملت دا دی چې يوازې د الله عبادت وشي.

**(پوه شه)** الله دې تا خپل طاعت ته برابر کړي، چې ابراهيمي ملت؛ حنيفيت دا دی، چې ته د الله داسې عبادت وکړې چې دين يوازې هغه لره خالص کړې، الله په همدې باندې ټولو خلکو ته امر کړی او د همدې لپاره يې پيدا کړي، لکه هغه چې فرمايي:

**وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ(56) .**

**{او موږ پيريان او انسانان بل څه ته ندي پيدا کړي پرته لدې چې ما ولمانځي} [56].**[5]

او د **يعبدون** معنا دا ده چې الله يو ومني.

او لوی شی چې الله پرې امر کړی دی توحيد دی، او هغه دې ته وايي چې عبادت يوازې الله لره وشي.

او لوی شی چې الله منع ترې کړې ده شرک دی، او هغه الله سره د بل چا بللو ته وايي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

**وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا.**

"{او يوازې د الله عبادت وکړئ او هيڅ شی ورسره شريک مه نيسئ}.[6]

(نو که تا ته وويل شي): **چې هغه درې اصول کوم دي چې انسان يې بايد وپېژني؟**

ته به ووايې: **چې بنده خپل رب، خپل دين او خپل پيغمبر محمد -(صلی الله عليه وسلم)- وپېژني.**

(نو که درته وويل شو): **چې رب دې څوک دی؟.**

---

[5] الذاريات سورت: 56 أيت

[6] النساء سورت :٣٦ آيت

ته ووایه: **رب مې هغه الله دی چې زه او ټول عالم یې په خپلو نعمتونو پاللي یو، او هغه مې معبود دی چې له هغه پرته مې هیڅ بل معبود نشته،** او دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (2).**

{ټول ثنا او د کمال صفتونه خاص الله لره دی، چې د ټول عالم پالونکی دی}[7]

او له الله پرته چې هر څه دي هغه عالم دی او زه هم له دې عالم څخه یو یم.

(نو که درته وویل شو): **چې په شي دې خپل رب پېژندلی؟**

ته ووایه: **په نښو نښانو او په مخلوقاتو، او شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ یې له نښو نښانو څخه دي، او اووه آسمانونه، اووه زمکې او څه چې په کې دي یا یې په مینځ کې دي د هغه له مخلوقاتو څخه دي،** او دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**وَمِنْ آيَاتِهِ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لاَ تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلاَ لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِي خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ (37).**

{او د هغه له نښانو څخه شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ دي، مه لمر ته سجده کوئ او مه سپوږمۍ ته، او (یوازې) هغه الله ته سجده وکړئ چې هغه (ټول) یې پیدا کړي دي، که چېرې تاسو یوازې هغه لمانځئ}.[8]

**إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ يُغْشِي اللَّيْلَ النَّهَارَ يَطْلُبُهُ حَثِيثًا وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ أَلاَ لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ (54).**

---

[7] الفاتحة سورت :۲ آیت

[8] فصلت سورت ۳۷ آیت

او د الله تعالی دا قول: {بې شکه ستاسو رب هغه الله دی چې آسمانونه او زمکه يې په شپږو ورځو کې پیدا کړل، بیا يې د عرش د پاسه استوا وکړه، شپه په ورځې باندې پټوي چې دا (شپه) هغې (ورځ) لره په تلوار سره لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري (يې پيدا کړل) چې د هغه په امر غاړه اېښودونکي دي. خبر اوسئ! پيدا کول او حکم چلول خاص هغه لره دي، الله برکت والا دی، د ټولو مخلوقاتو رب}. [9]

**يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمْ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (21). الَّذِي جَعَلَ لَكُمْ الأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنْزَلَ مِنْ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنْ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ فَلاَ تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ (22).**

او رب معبود ته وايي، دليل يې د الله تعالی دا قول دی: {ای خلکو د خپل رب عبادت وکړئ، هغه چې تاسې يې پيدا کړئ او له تاسې ړومبي، د دې لپاره چې ځان وساتئ. هغه چې زمکه يې درته فرش او اسمان يې چت ګرځولی. او له اسمانه يې اوبه راتويې کړې چې په هغو سره يې ميوې درته راوويستې، ستاسو د خوراك لپاره، نو الله لره سيالان مه ټاکئ حال دا چې ښه پوهېږئ }[10]

ابن کثير رحمه الله تعالی ويلي: **د دې شيانو پيدا کوونکی همغه يوازې د عبادت مستحق دی.**

[9] الأعراف سورت ۵۴ آيت.

[10] البقرة سورت ۲۱ او ۲۲ آيتونه

## د عبادت هغه ډولونه چې الله امر پرې کړی دی

**(او د عبادت ډولونه)** چې الله امر پرې کړی لکه: **اسلام، ایمان او احسان، دغه راز دعاء، ویره، امید ساتل، توکل، لیوالتیا، ډار، عاجزي، وېره، رجوع، مرسته غوښتل، پناه غوښتل، تنګسه کې د مرستې غوښتنه، حلاله، نذر او نور هغه عبادتونه چې الله امر پرې کړی (ټول الله لره دي)،** دلیل یې د الله دا قول دی:

**وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلاَ تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا (18).**

{او دا چې جوماتونه د الله لپاره دي، نو (هلته) الله سره هیڅوک مه رابلئ} [11]

نو که چا له دې عبادته کوم شی -الله نه غیر- بل چا ته وکړ، هغه مشرک او کافر دی، دلیل یې د الله دا قول دی:

**وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لاَ بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لاَ يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ (117).**

{او څوک چې الله سره کوم بل معبود رابلي چې د هغه په هکله کوم دلیل هم ورسره نه شته نو حساب یې له خپل رب سره دی، حقیقت دا دی چې داسې کافران بری نه شي موندلی}. [12]

او په حدیث کې دی "**{دعا د عبادت مغز دی}** [13]، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**وَكَذَلِكَ حَقَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّهُمْ أَصْحَابُ النَّارِ (6).**

---

[11] الجن سورت :١٨ آیت

[12] المؤمنون سورت :١١٧ آیت

[13] ترمذي الدعوات )3371

{او ستاسو رب ويلي دي چې ما دروبولئ سوال به مو قبول کړم يقينا هغه کسان چې زما له عبادته لويي کوي ژر به په سپکاوي سره جهنم ته ننوځي}[14]

او د خوف دليل د الله تعالی دا قول دی:

**إِنَّمَا ذَلِكُمْ الشَّيْطَانُ يُخَوِّفُ أَوْلِيَاءَهُ فَلاَ تَخَافُوهُمْ وَخَافُونِي إِنْ كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ (175).**

(له هغوی مه ډارېږئ او ما نه وډار شئ که تاسو رښتيا مؤمنان ياست}[15]

او د رجاء دليل د الله تعالی دا قول دی:

**قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلاً صَالِحًا وَلاَ يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا (110).**

{نو هر څوک چې له خپل رب سره د ملاقات هيله لري هغه دې سم کارونه وکړي او د خپل رب په عبادت کې دې بل هيڅ څوک نه شريکوي}[16]

او د توکل دليل د الله تعالی دا قول دی:

**وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ (23).**

{او په الله بروسه وکړئ که (رښتيني) مومنان يئ}[17]

**وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ (3).**

{او څوک چې په الله توکل وکړي نو همغه ورته بس دی}.[18]

---

[14] غافر سورت: ٦٠ آيت

[15] آل عمران سورت: ١٧٥ آيت.

[16] الکهف سورت: ١١٠ آيت

[17] المائدة سورت: ٢٣ آيت

[18] الطلاق سورت: ٣ آيت

او د رغبت، ډار او خشوع دليل د الله دا قول دی:

**إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ (90).**

{بې شکه هغوی (ټولو) په نېکيو کې بيړه کوله او موږ يې (د ثواب) په مينه او (له عذاب نه) په وېره وربللو او خاص موږ ته غاړه ايښودونکي وو}[19].

او د وېرې دليل د الله تعالی دا قول دی:

**فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِي (3).**

{نو له هغوی مه وېرېږئ بلکې له ما ووېرېږئ}[20]

او د رجوع دليل د الله تعالی دا قول دی:

**وَأَنِيبُوا إِلَى رَبِّكُمْ وَأَسْلِمُوا لَهُ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَكُمُ الْعَذَابُ ثُمَّ لاَ تُنْصَرُونَ (54).**

{او خپل رب ته وروګرځئ او هغه ته غاړه کېږدئ تر هغه مخکې چې عذاب درته راشي بيا به له تاسو سره څه مرسته نه کېږي}[21]

او د مرستې غوښتو دليل د الله تعالی دا قول دی:

**إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (5).**

{يوازې ستا عبادت کوو او يوازې تا نه مرسته غواړو}.[22]

او په حديث کې دي:

---

[19] الأنبياء سورت : ۹۰ آيت.

[20] المائدة سورت ۳ آيت.

[21] الزمر سورت ۵۴ آيت.

[22] الفاتحة سورت: ۵ آيت.

"{کله چې دې مرسته غوښتله نو یوازې له الله یې غواړه}

او د پناه غوښتو دلیل د الله دا قول دی:

**قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ (1). مَلِكِ النَّاسِ (2).**

"{ووایه: د (ټولو) خلکو رب پورې پناه غواړم د خلکو پاچا }.[23]

او د تنګسې پر مهال د مرستې غوښتو دلیل د الله تعالی دا قول دی:

**إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ (9).**

{کله چې خپل رب ته مو فریاد کولو نو ځواب یې درکړ}[24]

او د ذبحې دلیل د الله تعالی دا قول دی:

**قُلْ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (162). لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ (163).**

{ورته وایه: بې شکه زما لمونځ، زما د عبادت مراسم او زما ژوند او مرګ هرڅه د مخلوقاتو رب الله لره دي. چې هیڅ شریك نه لري، او په همدې راته امر شوی او زه له مسلمانانو لومړی کس یم }.
25

او له احادیثو څخه دي چې:

{پر هغه دې د الله لعنت وي چې الله نه غیر د بل چا لپاره حلاله کوي}[26].

---

[23] الناس سورت :۱- ۲ آیتونه

[24] الأنفال سورت: ۹ آیت.

[25] .الأنعام سورت :۱٦۲ او ۱٦۳ آیتونه

[26] مسلم الأضاحي )1978(، نسائي الضحايا )۴۴۲۲(، أحمد )۱/ ۱۱۸

او د نذر دليل د الله تعالی دا قول دی:

**يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا (7).**

{دوی نذر پوره کوي او له هغې ورځې ډارېږي چې د هغې شر خپور وور دی}.[27]

❍❍❍

[27].الإنسان سورت :۷ آیت

## دویم اصل: په دلایلو سره د اسلامي دین پېژندل.

او دا؛ الله ته د توحید په منلو غاړه اېښودلو، په طاعت باندې هغه ته سر ټیټولو او شرک نه ځان ژغورلو ته وایي، چې درې مرتبې لري:

**(اسلام)**، **(ایمان)** او **(احسان)**، او دا هره مرتبه بیا خپل ارکان لري.

### لومړۍ مرتبه: اسلام

د اسلام ارکان (پنځه) دي، **دا ګواهي ورکول چې له الله پرته د بندګۍ وړ هیڅوک نه شته او دا چې محمد د الله رسول دی، (لمونځ قایمول)، (زکات ورکول)، (روژه نیول) او (د بیت الله الحرام حج).**

نو د ګواهۍ ورکولو دلیل د الله تعالی دا قول دی:

**شَهِدَ اللَّهُ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ وَالْمَلاَئِكَةُ وَأُوْلُوا الْعِلْمِ قَائِمًا بِالْقِسْطِ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (18).**

{الله شاهدي ورکړې چې له ده پرته بل معبود نه شته، ملائکو او د علم خاوندانو هم ګواهي ورکوي او دا ګواهي په عدل ولاړه ده، نشته لایق د عبادت مګر صرف هماغه حکمت والا برلاسی}.[28]

او معنا یې دا ده **چې له الله پرته بل هیڅ حق معبود نشته. او (لا إله) ټول هغه شیان نفې کوي چې له الله پرته یې عبادت کېږي، (إلا الله) دا ثابتوي چې عبادت یوازې الله ته کېدی شي، چې په دې عبادت کې به ورسره هیڅ شریک نه نیول کېږي، دغه راز هغه په خپله پاچاهۍ کې کوم شریک نه لري.**

تفسیر یې داسې دی چې د الله تعالی دې قول روښانه کړی دی:

**وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لأَبِيهِ وَقَوْمِهِ إِنَّنِي بَرَاءٌ مِمَّا تَعْبُدُونَ (26). إِلاَّ الَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُ سَيَهْدِينِ (27). وَجَعَلَهَا كَلِمَةً بَاقِيَةً فِي عَقِبِهِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ (28).**

---

[28] آل عمران سورت :۱۸ آیت

"{او كله چې ابراهيم خپل پلار او قوم ته وويل: بې شكه زه له هغه څه بېزار يم كوم چې تاسو يې لمانځئ پرته له هغه (الله) چې زه يې پيدا كړی يم نو هماغه به لار راوښيي ". او هغه يې په خپل راتلونكي نسل كې يوه پاتېدونكې خبره وګرځوله(عقيده د توحيد) څو چې هغوی (توحيد ته) بېرته راوګرځي}.[29]

او د الله تعالی دا قول:

**قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلاَّ نَعْبُدَ إِلاَّ اللَّهَ وَلاَ نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلاَ يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُولُوا اشْهَدُوا بِأَنَّا مُسْلِمُونَ (64).**

{ورته وايه ای اهل كتابو! هغه څه ته راشئ چې زموږ او ستاسو تر منځ يو برابر دی، دا چې له الله نه پرته به بل څه نه لمانځو، نه به څه شی ورسره شريكوو او نه به څوك الله نه پرته مالكان د حل او د حرمت په توګه نيسي، نو كه وګرځېدل بيا ورته ووايئ تاسو شاهدان اوسئ چې موږ مسلمانان يو} .[30]

او د دې ګواهی دليل چې محمد د الله رسول دی، د الله تعالی دا قول دی:

**لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ (128).**

{(دادی) تاسو ته يو داسې رسول راغلی چې خپله له همدا تاسو څخه دی، څه چې تاسو كړوي هغه په ده ډېر ګران (او درانه) تمامېږي، ستاسې د ښېګڼې حريص دی، په مؤمنانو مهربان خواخوږی دی}.[31]

---

[29]الزخرف سورت :٢٦- ٢٨ آيتونه

[30]آل عمران سورت :٦٤ آيت

[31]التوبة سورت :١٢٨ آيت

او د دې ګواهۍ ورکولو معنا چې محمد د الله رسول دی دا ده: چې په کومو شيانو هغه امر کړی په هغو کې يې طاعت وشي، چې له کومو شيانو هغه خبر ورکړی په هغو کې هغه رېښتينی ګڼل، له کومو شيانو چې يې منع کړې او زجر يې ورکړی له هغو ډډه کول او دا چې د الله عبادت يوازې په هغو شيانو وشي چې د هغه شريعت کې دي.

او د لمانځه، زکات او د توحيد د تفسير دليل د الله تعالی دا قول دی:

**وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ (5).**

{او هغوی ته (هم) د بل څه امر نه و شوی، پرته له دې چې الله ولمانځي، په داسې حال کې چې هغه لره د خپل دين سوچه کوونکي؛ حق پلوي اوسي، لمونځ دې ترسره کوي، زکات دې ورکوي او همدا سم صحيح دين دی}[32]

او د روژې دليل د الله تعالی دا قول دی:

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمْ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (183).**

{ای مؤمنانو پر تاسو باندې روژه داسې فرض شوې ده، لکه چې له تاسو نه پر مخکنيو فرض شوې وه، د دې لپاره چې ځان ساتنه وکړئ}. [33]

او د حج دليل د الله تعالی دا قول دی:

**وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنْ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنْ الْعَالَمِينَ (97).**

---

[32] البينة سورت: ۵ آيت.

[33] البقرة سورت :۱۸۳ آيت

{او د الله لپاره پر خلکو د دې کور حج (لازم) دی، څوك چې هغه ته د لارې وس پیدا کړي او چا چې کفر (انکار) وکړ نو بې شکه الله هم له ټولو خلکو بې پروا دی} [34]

## دویمه مرتبه ایمان

او ایمان څه له پاسه اویا څانګې لري، لوړه یې د لا إله إلا الله ویل او ټیټه یې له لارې څخه ضرر لرې کول دي، او حیاء د ایمان یوه څانګه ده.

ارکان یې شپږ دي: **چې پر الله، د هغه پر ملایکو، کتابونو، رسولانو، د اخرت پر ورځ او د تقدیر په اندازه ایمان ولرې، چې خیر او شر یې ټول د الله له طرفه دي.**

د دې شپږو ارکانو دلیل د الله تعالی دا قول دی:

**لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ (177).**

{(یوازې) دا نېکي نه ده چې مخونه مو ختیځ او (یا) لویدیځ ته وګرځوئ خو دا نیکی ده چې څوك په الله، وروستی ورځ، ملایکو، کتاب او نبیانو ایمان راوړي} [35]

او د قدر یا تقدیر دلیل د الله تعالی دا قول دی:

**إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ (49).**

{بې شکه موږ هر شی په یوه ټاکلې اندازه پیدا کړي} [36]

---

[34] آل عمران ۹۷ آیت.

[35] البقرة سورت :۱۷۷ آیت

[36] القمر سورت :۴۹ آیت

**درییمه مرتبه احسان، چې یو رکن لري.**

هغه دا چې ته د الله داسې بندګي وکړې لکه ګورې يې چې، نو که ته هغه نه ګورې، هغه خو دې ګوري، دلیل يې د الله تعالی دا قول دی:

**إِنَّ اللَّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَوْا وَالَّذِينَ هُمْ مُحْسِنُونَ (128).**

{بې شکه الله هغو کسانو سره (مل) دی چې تقوا کوي او هغوی چې نېك چاري دي}.[37]

او دا قول يې:

**وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ (217). الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ (218). وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ (219). إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ (220).**

{او په ډېر مهربان برلاسي (الله) بروسه وکړه. هغه چې تا ویني کله چې پاڅېږې او په سجده کونکو کې ستا پرېوتل پاڅېدل (ویني) بې شکه هماغه ښه پوه اورېدونکی دی}[38]

او دا قول يې:

**وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا مِنْهُ مِنْ قُرْآنٍ وَلاَ تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلاَّ كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ (61).**

{او ته چې په هر حالت کې اوسې او له قرانه چې هر څه لولې او (ای خلکو) تاسو چې هر څه عمل کوئ (په هر حال) موږ پر تاسو شاهد یو کله چې تاسو په کې بوخت (لګیا) یاست}.[39]

---

[37] النحل سورت :۱۲۸ آیت

[38] الشعراء سورت :۲۱۷- ۲۲۰ آیتونه

[39] یونس ٦١ آیت.

(له سنتو څخه يې دليل): د جبريل مشهور حديث دی، له عمر بن الخطاب -(رضي الله عنه)- نه روايت دی، وايي:

**په داسې حال کې چې موږ له نبي -(صلی الله علیه وسلم)- سره ناست وو، يو سړی راڅرګند شو، چې تکې سپينې جامې او تک تور ويښته يې وو، د سفر هيڅ نښه پرې نه ليدل کېده او له موږ څخه هيچا نه پېژانده، نو نبي -(صلی الله علیه وسلم)- ته کښېناست، زنګنونه يې د هغه زګنونو ته تکيه کړل او لاسونه يې د هغه په ورنونو کېښودل او ويې ويل: محمده، له اسلام نه مې خبر کړه، رسول الله -(صلی الله علیه وسلم)- وويل: چې دا ګواهي ورکړې چې له الله پرته د بندګۍ وړ هيڅوک نه شته او محمد -(صلی الله علیه وسلم)- د الله رسول دی، لمونځ قايم کړې، زکات ورکړې، د رمضان روژه ونيسې او که په وس دې پوره وه نو د بيت الله حج وکړې، ويې ويل: رښتيا دې وويل. نو موږ ورته تعجب وکړ، چې پوښتنه ترې هم کوي او بيا يې تصديق هم کوي.**

**ويې ويل: د ايمان په اړه خبر راکړه. -د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) وويل-: دا چې ته په الله، په ملايکو يې، په رسولانو يې، د آخرت په ورځ او پر قدر ايمان ولرې چې خير او شر يې د الله له خوا دي. ويې ويل: له احسان څخه مې خبر کړه. ويې ويل: چې ته د الله داسې بندګي وکړې لکه ګورې يې چې، نو که ته يې نه ګورې، هغه خو دې ګوري. ويې ويل: د قيامت په اړه خبر راکړه. ويې ويل: پوښتل شوی د قيامت په اړه له پوښتونکي ډېر نه پوهېږي. ويې ويل: له نښو مې يې خبر کړه. ويې ويل: چې وينځه خپله باداره وزېږوي او چې پښې لوڅې، بربنډ او اړ خلک وويني چې د ودانيو جوړولو کې سيالۍ کوي، عمر (رضي الله عنه) وايي: بيا سړی ولاړ او موږ لږ ځنډ تېر کړ، نو د الله رسول وويل: عمره، پوهېږې پوښتونکی څوک و؟ موږ وويل: الله او د هغه رسول ښه پوهېږي، ويې ويل: دا جبريل و، راغلی و چې تاسو ته ستاسو د دين امور درزده کړي} [٤٢].**

○○○

## درېيم اصل د خپل نبي محمد -(صلی الله عليه وسلم)- پېژندل

هغه **محمد** زوی د عبد الله زوی د عبد المطلب زوی د هاشم دی، هاشم له قريشو څخه دی، قريش له عربو څخه او عرب د اسماعيل زوی د ابراهيم له اولادې څخه دي، چې د الله دوست دی، پر هغه او زموږ پر نبي دې غوره درود او سلام وي.

هغه درې شپېته کاله عمر درلود، څلوېښت يې له نبوت وړاندې او درويشت يې د نبي او رسول په توګه. په اقرأ باندې نبي او په مدثر باندې رسول شو. ټاټوبی يې مکه وه، الله شرک نه د خلکو په وېرولو او توحيد ته په بللو باندې مبعوث کړی، دليل يې د الله تعالی دا قول دی:

**يَاأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ (1). قُمْ فَأَنذِرْ (2). وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (3). وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ (4). وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ (5). وَلاَ تَمْنُنْ تَسْتَكْثِرُ (6). وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ (7).**

ای په جامه کې ځان نغښتونکيه! پاڅېږه او خبرداری ورکړه. او د خپل رب لويي بيان کړه او خپلې جامې پاکې وساته او چټلی نه لرې اوسه او داسې ښېګڼه مه کوه چې د بدل زياتول غواړې او د خپل رب لپاره صبر کوه}[40]

او د **قم فأنذر** معنا دا ده چې: **له شرک نه خلک ووېروي او توحيد ته بلنه ورکړي.**

**وربک فکبر:** يعنې **په توحيد سره د هغه تعظيم وکړه. وثيابک فطهر:** مطلب **خپل اعمال دې له شرک څخه پاک کړه.**

**والرجز فاهجر،** الرجز: يعنې **بتان، او پرېښودل** يې يعنې: بتان او د بتانو والا خلک پرېږده او برآت ترې وکړه.

لس کاله يې همداسې توحيد ته په بلنه تېر کړل، له لسو کالو وروسته د اسمان په لور بوتلل شو او پنځه لمونځونه پرې فرض شول، بيا يې مکه کې درې کاله لمونځ وکړ او له هغې وروسته مدينې ته د

[40] المدثر سورت :۱-۷ پورې آيتونه

هجرت امر ورته وشو. هجرت د شرک له وطن نه د اسلام وطن ته تللو ته وايي، هجرت پر دې امت یوه فریضه ده چې د شرک له وطنه به د اسلام وطن ته ځي، او هجرت د قیامت تر ورځې پاتې دی.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمْ الْمَلاَئِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ قَالُوا فِيمَ كُنتُمْ قَالُوا كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ فِي الأَرْضِ قَالْوا أَلَمْ تَكُنْ أَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوا فِيهَا فَأُوْلَئِكَ مَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ وَسَاءَتْ مَصِيرًا (97). إِلاَّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنْ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ لاَ يَسْتَطِيعُونَ حِيلَةً وَلاَ يَهْتَدُونَ سَبِيلاً (98). فَأُوْلَئِكَ عَسَى اللَّهُ أَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا (99).**

{بې شکه هغوی چې ملایکې یې ساه اخلي په داسې حال کې چې پر خپلو ځانو ظالمان وو، (ملایکې) ورته وايي په څه حال کې وئ؟ دوی به وايي موږ په زمکه کې کمزوري وو، ورته وايي آیا د الله زمکه پراخه نه وه چې هجرت مو په کې کړی وی؟ نو د دې خلکو استوګنځی جهنم دی او هغه د ورګرځېدلو ډېر بد ځای دی (۹۷) پرته له هغو کمزورو نارینه و، ښځو او ماشومانو چې نه څه چاره لري او نه کومه لار پیژني نو ښايي چې الله یې وبخښي او الله مهربان تېرېدونکی دی} [41]

او دا قول یې:

**يَاعِبَادِي الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ أَرْضِي وَاسِعَةٌ فَإِيَّايَ فَاعْبُدُونِي (56).**

{ای زما هغو بندګانو چې ایمان یې راوړی بې شکه زما زمکه پراخه ده نو یوازې زما عبادت وکړئ}. [42]

[41] النساء سورت: ۹۷- ۹۹ پورې آیتونه

[42] العنکبوت ۵۶ آیت

بغوي رحمه الله وایي: د دې آیت د نزول سبب دا دی، چې دا د هغو مسلمانانو په اړه دی چې په مکه کې وو او هجرت یې نه و کړی، الله ورته د ایمان په نوم غږ وکړ.

او له سنتو څخه پر هجرت باندې دلیل د رسول الله -(صلی الله علیه وسلم)- دا قول دی:

**"{هجرت تر هغه نه پرې کېږي تر څو چې توبه نه وي بنده شوې، او توبه تر هغه نه بندېږي تر څو چې لمر له لویدیځه نه وي راپورته شوی}.**

نو کله چې مدینه کې ځای پر ځای شو، د اسلام پر پاتې نورو احکامو یې امر وکړ، لکه زکات، روژه، حج، اذان، جهاد، پر نېکیو امر، له بدیو منع او پر دې سربېره د اسلام نور احکام، دې کې یې لس کاله تېر کړل.

بیا رسول الله صلوات الله وسلامه علیه وفات شو او دین یې پاتې شو، دغه یې دین دی، هیڅ خیر نشته مګر خپل امت یې ترې خبر کړ او هیڅ شر نشته مګر امت یې ورته متوجه کړ، او هغه خیر چې ده خپل امت ته وښود؛ توحید او ټول هغه څه دي چې د الله خوښ دي او پرې راضي کېږي، او هغه شر چې امت یې ترې ځیني ووېراوه شرک او ټول هغه څه دي چې د الله ندي خوښ او منع یې ترې کړې ده، الله ټولو خلکو ته مبعوث کړ او د هغه طاعت یې پر پېریانو او انسانانو ټولو فرض کړ، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**قُلْ يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ (158).**

**{ووایه: ای خلکو! زه تاسو ټولو ته د هغه الله رسول یم}[43]**

او الله پرې دا دین بشپړ کړ.

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

[43] الأعراف ۱۵۸ آیت

**الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا (المائدة: 3).**

{نن مې ستاسو دین درته پوره کړی، خپل نعمت مې درباندې تمام کړی او همدغه اسلام مې ستاسو د دین په توګه درته غوره کړی دی}. [44]

او د هغه -(صلی الله علیه وسلم)- پر وفات دلیل د الله دا قول دی:

**إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُمْ مَيِّتُونَ (30). ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ رَبِّكُمْ تَخْتَصِمُونَ (31).**

{بې شکه ته مړ کېدونکی یې او دوی هم مړه کېدونکي دي بیا به تاسې (ټول) د قیامت په ورځ د خپل رب پر وړاندې ناندرۍ سره وهئ} [45]

او خلک چې کله مړه شي نو بیا به راژوندي کېږي، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى (55).**

{له همدې (زمکې) مو تاسو راپیدا کړئ، همدې ته مو بېرته وررولو او له همدې به مو بل وار (هم) راوباسو}[46]

او دا قول یې:

**وَاللَّهُ أَنْبَتَكُمْ مِنَ الأَرْضِ نَبَاتًا (17). ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا (18).**

{او تاسې یې له زمکې نه (په یوه خاص ډول) راټوکولئ بیا به مو بېرته هغې ته ورستانه کړي او (بیا به مو) یو دم ترې راوباسي} [47]

---

[44] المائدة ۳ آیت.

[45] الزمر سورت: ۳۰ او ۳۱ آیتونه

[46] طه ۵۵ آیت.

[47] نوح ۱۷، ۱۸ آیتونه

او له بیا ځل راوژندي کېدو وروسته به حساب ورسره کېږي او د اعمالو بدله به ورکول کېږي، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**وَلِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ لِيَجْزِيَ الَّذِينَ أَسَاءُوا بِمَا عَمِلُوا وَيَجْزِيَ الَّذِينَ أَحْسَنُوا بِالْحُسْنَى (31).**

{او په اسمانو او زمکه کې چې څه دي هغه (یوازې) الله لره دي. تر څو بد عمله کسانو ته د خپلو عملو بدله ورکړي او چا چې ښه کړي هغه ته په ښو سره بدله ورکړي}[48]

او چا چې پر بعث تکذیب وکړ کافر شو، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنْ لَنْ يُبْعَثُوا قُلْ بَلَى وَرَبِّي لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ وَذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ (7).**

{کافرانو دا ګمان (او دعوا) کړې چې بیا به دوی راژوندي نه شي ورته ووایه: ولې نه! زما په رب قسم چې تاسې به راژوندي کېږئ او څه مو چې کړي په هغو به خبرېږئ او دا په الله ډېره اسانه ده}[49]

او الله ټول پیغمبران زېری ورکوونکي او وېروونکي لېږلي دي، دلیل یې د الله دا قول دی:

{(دا ټول) رسولان زېری ورکوونکي او ویرونکي (لېږل شوي وو) تر څو له رسولانو وروسته خلکو ته د الله په وړاندې کوم دلیل پاتې نه شي، او الله د حکمت والا برلاسی دی}.[50]

لومړنی یې نوح علیه السلام او وروستی یې محمد -(صلی الله علیه وسلم)- دی او هغه خاتم النبیین هم دی .

د دې دلیل چې نوح لومړنی دی، د الله دا قول دی:

---

[48] النجم ۳۱ آیت

[49] التغابن سورت :۷ آیت

[50] یونس ۱٦٥ آیت.

**إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَى نُوحٍ وَالنَّبِيِّينَ مِنْ بَعْدِهِ (163).**

{یقینا موږ تا ته هماغه شان وحې درلیږلې ده لکه نوح او له هغه وروسته نبیانو ته مو چې ورلیږلې ده} .[51]

او له نوح نه تر محمد پورې هر امت ته الله رسول لیږلی دی، چې یوازې د الله پر عبادت یې ورته امر کړی او د طاغوت له عبادته یې منع کړي دي، دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولاً أَنْ اُعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ (36).**

{او موږ هر ولس ته یو رسول ولیږه چې الله ولمانځئ او له باطلو معبودانو ځان وساتئ}[52]

او الله پر ټولو بندګانو فرض کړې چې پر طاغوت کفر وکړي او پر الله ایمان ولري.

ابن القیم رحمه الله وایي: **"د طاغوت معنا دا ده چې بنده پر کوم معبود، یا پیروي کېدونکي او یا طاعت کېدونکي باندې له حده تیری وکړي، او طاغوتان ډېر دي.سرکرده یې پنځه دي، ابلیس لعنه الله، او هغه څوک چې عبادت یې کېږي او دی پرې راضي وي، او هغه څوک چې خلک خپل عبادت ته وربولي، او هغه چې د غیبو له علم څخه د کوم شي دعوه کوي او هغه چې د الله له دین پرته په بل شي فیصلې کوي".**

دلیل یې د الله تعالی دا قول دی:

**لاَ إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنْ الغَيِّ فَمَنْ يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِنْ بِاللَّهِ فَقَدْ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ (256).**

---

[51] النساء ۱٦۳ آیت.

[52] النحل سورت :۳٦ آیت

**{په دین (منلو) کې زور نشته هدایت ( سمه لار) له بې لارۍ نه څرګند شوې ده، نو څوك چې د طاغوت (شیطان او بت) نه منکر شي او په الله ایمان راوړي نو په داسې ټینګې کړۍ یې منګولې ولګولې چې شلېدل یې نشته او الله پوه اورېدونکی دی}[53]**

او همدا د لا إله إلا الله معنا ده.

او په حدیث کې دي:

**"{د دین سر اسلام (شهادتین) دی، او لمونځ د اسلام ستن ده او لوړه څوکه یې د الله په لار کې جهاد دی}  او الله ښه پوهېږي[54].**

---

[53] البقرة سورت :٢٥٦ آیت

[54] ترمذي؛ الإیمان (٢٦١٦)، ابن ماجه الفتن (3973) ، أحمد) ٥ /٢۴٦.(

## فهرست

د خپرندوی سریزه ........................................................................................ 1
هغه شیان چې پر هر مسلمان یې زده کړه لازمي ده .................................................... 4
حنیفیت؛ ابراهیمي ملت دا دی چې یوازې د الله عبادت وشي. ........................................ 7
د عبادت هغه ډولونه چې الله امر پرې کړی دی ......................................................... 10
دویم اصل: په دلایلو سره د اسلامي دین پېژندل. ....................................................... 15
درېیم اصل د خپل نبي محمد -(صلی الله علیه وسلم)- پېژندل ......................................... 21

دري ګوني اصول او دلايل يې

د شيخ الاسلام محمد بن عبدالوهاب ليکنه
1115م - 1206م


ننشر الإسلام بأكثر من 100 لغة

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تضم تفاسير وتراجم موثوقة لمعاني القرآن الكريم

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة تضم ترجمات للأحاديث النبوية وشروحها بعدة لغات

موسوعة المصطلحات الإسلامية
TerminologyEnc.com
موسوعة تضم ترجمات المصطلحات الإسلامية وشروحها بعدة لغات

منتقى المحتوى الإسلامي
موسوعة تضم المنتقى من المحتوى الإسلامي باللغات

IslamHouse.com
مرجعية مجانية إلكترونية موثوقة للتعريف بالإسلام

جمعية الدعوة وتوعية الجاليات بالربوة

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات